<u>**مطبوعاتي اعلاميه**</u>

## د دولت د سیکولاریزشن  له لارې د ماشومتوب بدبختي

استعمار د خپلو هڅو له لارې د کورنۍ د ستنو د ويجاړولو او د امت د هويت له منځه وړلو ته ليواله دی. دوی نه يوازې د آزادۍ او مساواتو تر نوم لاندې د مور او پلار حيثيت راټيټ کړ، بلکې هڅه يې وکړه  چې د يوې داسې نمونې د پيدا کولو لپاره په کار کولو زموږ ماشومان گمراه کړي چې د بشر له طبعيت سره په ټکر کې ده.

قصداً يې ماشومان اړ ايستل چې په ټوټې ټوټې سيکولر نظام کې لوی شي؛ هغه چې وسله يې کنوانسيونونه، قانون او سازمانونه دي. ډېری يې د اسلام نه منلو ته اړ کېږي او د داسې نظام په اړه فکر نه کوي چې د اسلامي امت روحيې ته ځواب ووايي.

دغه نظام ژوند له کړاوونو ډک کړی چې دغه چاره د ماشومانو ځانوژنې ته لار هواروي، د دوی پر وړاندې جنسي تيري او د بې ځايه کېدو قضيې، په تعليمي او اخلاقي انحراف کې ژورې لاس وهنې، د رواني وضعيت په خرابېدو کې د گډوډۍ  او د نشه يي توکو لوړه کچه يې رامنځ ته کړې ده. پر دې ټولو سربېره، زموږ په هېواد کې رژيم دې ته هېڅ پاملرنه نه کوي، بلکې په ډېرو ستونزمنو قضيو کې، دا حل يوازې د هغه نظام د ننه ويني چې د ستونزې او ناروغۍ لامل دی. ځکه نو د حزب التحرير ـ ولايه تونس د ښځو برخې په لاندې سرليک کمپاين اعلان کړ:  «**په سيکولر دولت کې د ماشومتوب بدبختي**»

### په دغه کمپاين کې دوې برخې شاملې دي:

**لومړۍ برخه:** ماشومتوب؛ د بې پروايۍ او د قوانينو د سرچينې تر منځ. دا برخه لاندې ټکو ته اشاره کوي:

الف ـ د ماشوم د طبيعي پالونکې کورنۍ ويجاړول

ب ـ دولت په روغتيايي او تعليمي برخو کې د خپل قانون په اړه بې پروايي کوي

ج ـ په ټونس او نړۍ کې د ماشومتوب لپاره د سيکولر پانگوالي فتح او وژنه

د ـ ماشوم او رسنۍ، د ويجارۍ او رغونې په منځ کې.

**دویمه برخه:** دا ښيي چې په اسلام کې باید ماشومانو ته څنګه پاملرنه وشي.

**په حزب التحرير ـ ولايه تونس کې د ښځو برخې رسمي ویانده**

۱۴۴۱ هـ. ق کال، د جمادی الثاني ۲۹مه

۲۰۲۰م کال، یکشنبه، د فبروری ۲۳مه

د صدور ګڼه: ۲۵/ ۱۴۴۱